

Immigration Advice Authority

# د مهاجرت د مشورې په لټه کې یاست؟ IAA دلته ستاسو د مرستې لپاره دی.

هر هغه څوک چې د مهاجرت مشورې یا خدمات وړاندې کوي باید له قوانینو څخه سمه پیروي وکړي **د مهاجرت د مشورې اداره (IAA)** د مهاجرت د مشاورینو لپاره د معیارونو کوډ ټاکي، او کولای شي د چارو د ناسمې اجراء په صورت کې ستاسو په استازیتوب د شکایتونو پلټنه وکړي.

د دې د یقیني کولو لپاره چې تاسو د اعتماد وړ د مهاجرت مسلي مشورې ترلاسه کوئ، همېشه وګورئ چې مشاور مو له IAA سره ثبت دی، یا زموږ له لارې د قانوني ماشور په لټه کې شئ.

## د مهاجرت د مشورې اداره (IAA) څه ده؟

IAA داسې یو سازمان دی چې د مهاجرت د مشاورینو لپاره قوانین ټاکي او د مهاجرت مشورې په سکټور کې غوره کړنې هڅوي .له موږ سره د نوملیکنې لپاره، یو مشاور باید ثابته کړي چې هغوی زموږ د معیارونو له کوډ څخه پیروي کوي او له یادو معیارونو څخه سرغړونه نه کوي.

دا په بریتانیا کې غیر قانوني کار دی چې یو څوک د قانوني چارو له طی کولو پرته د مهاجرت مشورې وړاندې کړي . هغه کسان چې زیانمنونکي کسان په خطر کې اچوي او د مهاجرت سیستم ته زیان اړوي .IAA د دې صلاحیت لري ترڅو د هغو مشاورینو پر وړاندې اقدام وکړي چې له قوانینو څخه سرغړونه کوي.

## له IAA سره ثبت شوی مشاور پیدا کړئ

تاسو کولای شئ **gov.uk/iaa** ته په مراجعې سره د مهاجرت ثبت شوی مشاور پیدا کړئ.



# د مشاور په هکله شکایت

که چېرې تاسو بده تجربه ولرئ، موږ غواړو په دې هکله ستاسو شکایت واورو ترڅو تېروتنې اصلاح کړو .تاسو کولای شئ د لاندې مواردو په هکله IAA ته شکایت وکړئ:

- له IAA سره د ثبت شوي مشاور له خوا کمزوري خدمات مو ترلاسه کړي وي، لکه ناسمه لاربښوونه، ډېر فیس وضعه کول، د پیرودونکو کمزوري خدمات، کمزورې مشورې او تاسو ته په سمه توګه ځواب نه درکول
- تاسو له کوم غیر رسمي مشاور څخه د مهاجرت مشورې ترلاسه کړې وي

تاسو همدارنګه کولای شئ له بل چا څخه غوښتنه وکړئ چې ستاسو په استازیتوب شکایت وکړي، د بېلګې په توګه ملګری، وکیل، یا رضاکارانه سازمان.

زموږ له وېب پاڼې څخه د لیدنې
لپاره دا ځای سکن کړئ

## څنګه کولای شئ له موږ سره اړیکه ونیسئ

د شکایت د ثبت لپاره، یا د خپلې عامې ادنېښنې د شریکولو لپاره بېلابېلې لارې شتون لري ترڅو له IAA سره اړیکه ونیسئ.

gov.uk/iaa ته لاړ شئ

برېښنالیک

info@immigrationadviceauthority.gov.uk